مجیب الرحمن ساپی

۲۰۱۱/۱۲/۲۴

# عراقی ایتلاف د ماتې په درشل کې

عراق په منځني ختيځ او د آسيا په سوېل لوېديځ کې پروت هيواد دی، چې پلازمينه يې بغداد ده.
سوېل لور ته يې سعودي عربستان او کوېټ لوديځ لور ته يې اردن او سوريه ختيځ لور ته يې ايران او شمال لورته يې ترکيه پرته ده.
د عراق جمعيت شاوخوا دېرش مليونه دی، چې پنځه اويا سلنه يې عربان، شل سلنه يې کردان او پنځه سلنه يې آشوريان، ترکمن او نور قومونه دي. همدا راز د عراق ۶۰ سلنه وګړي شيعه اته دېرش سلنه يې سني او پاتې دوه سلنه يې مسيحيان او نورو دينونو پورې تړلي دي.
د لسمي لمريزې پيړۍ له نيمايي څخه بيا تر ديارلسمي لمريزې پيړۍ پورې عراق د عثماني امپراتورۍ تر ولکې لاندې وو. په ۱۹۱۹ زېږدي کال کې له عثماني امپراتورۍ څخه جلا او د برېټانيې تر قيموميت لاندې راغی او په ۱۹۳۲ زېږدي کال کې يې له برېټانيې څخه خپلواکي تر لاسه کړه.
په ۱۹۷۹ زېږدي کال کې هغه مهال، چې د عراق پخوانی ولسمشر صدام حسين واک تر لاسه کړ نو په عراق کې د بعث ګوند حاکم شو، چې صدام حسين په ۱۹۸۰ کال له ايران او په ۱۹۹۰ زېږدي کال کې يې له کوېټ سره جګړه تر سره کړې، چې د ايران له جګړې څخه بريالی راوتی؛ خو د کويټ جګړه يې د امريکا پوځي مداخلې له امله لاسه ورکړه.
په ۲۰۰۳ زېږدي کال امريکا پر عراق بريد وکړ او د صدام حسين واکمني يې نسکوره کړه، چې له امله يې په عراق کې د سني، کردانو او شيعه وو ترمنځ خونړۍ جګړې تر سره شوې او عراق په کورنۍ جګړو کې ښکيل شو. شاوخوا يو نيم کال وړاندې د امريکا په مشرۍ په عراق کې ټولې خواوې سره سلا شوې، څو ايتلافي حکومت رامنځ ته کړي. په ايتلافي حکومت کې وټاکل شوه، چې ولسمشر دې سني او دوه مرستيالان دې شيعه وي، لومړی وزير دې شيعه او دوه مرستيالان دې سني او کرد وي، د پارلمان مشر دې سني او مرستيالان دې شيعه وي.
که څه هم ايتلاف د امريکا په مشرۍ او د امريکا تر څار لاندې رامنځ ته شو؛ خو بيا هم د خواوو ترمنځ ستونزو شتون درلود، چې دغه ستونزې به د امريکا په منځګړيتوب او همدا راز امريکا به له خپل نفوذ څخه په ګټه اخيستنې سره دغو ستونزو ته پای ټکی ابنوده.
د عراقي ايتلاف ستونزه هغه مهال مخ په ډېرېدو شوه، چې امريکايي ځواکونو عراق پرېښود او له عراق څخه د امريکايي ځواکونو له وتلو يوازې دوه ورځې نه وې تيرې شوي، چې د عراق لومړي وزير نوري مالکي (شيعه) د دغه هيواد پر مرستيال ولسمشر طارق الهاشمي (سني) تورولګاوه، چې په ترهګريزو بريدونو کې لاس لري او خپلې دغې ادعا ثابتولو لپاره يې د ځينو کسانو اعتراف د ثبوت په توګه وړاندې کړ، چې د طارق الهاشمي او د العراقيه ايتلاف ( په عراق کې تر ټولو ستر سياسي ايتلاف) له جدي غبرګون سره مخ شو. د مالکي دغې کړنې پر وړاندې العراقيه ايتلاف له پارلمان، چې ۹۱ غړي يې له نوموړي ايتلاف څخه دي او همدا راز له کابينې، چې۹ وزيران يې د العراقيه ايتلاف څخه دي بايکاټ اعلان کړ او پر وړاندې يې مالکي وويل، که چيرې دغه کسان کابينې ته حاضر نه شي نو پر ځای به يې نوي وزيران و ټاکل شي.
اصلي پوښتنه دلته رامنځ ته کيږي، چې ولې له عراق څخه د امريکا له وتلو وروسته دغه هيواد له سياسي ناورين سره مخ کيږي؟
له يوه لوري که د امريکا استعماري سياست ته ځير شو، نو ليدل کيږي، چې په عراق کې يې داسې حکومت نه دی رامنځ ته کړی، څو د امريکا له وتلو څخه وروسته دې په خپلو پښنو ولاړ وي؛ بلکې داسې حکومت يې رامنځ ته کړی، چې هرکله امريکا وغواړي نو له ماتې سره مخ ده.
بل لور ته بيا نوري المالکي، چې شيعه مذهبی دی او د ايران او سوريې له بشپړ ملاتړ څخه برخمن دی غواړي شيعه ګان د امريکا ځای ډک کړي او په يوازې توګه سره د نوموړي ډله ټپله د عراق ټول واک په خپل لاس کې واخلي، چې ښه بيلګه يې د العراقيه ايتلاف هغو وزيرانو پر وړاندې څرګندونې دي، چې د کابنيې غونډې ته نه دي حاضر شوي. نوري المالکي ويلي که چيرې دوی د کابينې غونډې ته حاضر نه شي نو د دی نشتون د استعفا په معنی ده او پر ځای به يې نور وزيران وټاکل شي. البته بايد وويل شي، چې نوي وزيران به هم د مالکي له ډلې څخه وي، چې د ده دغه غوښتنې د سنيانو او همدا راز د کردانو له ګټو سره په ټکر کې دي. همدا راز نوري المالکي غواړي د امريکا پر وړاندې ودرېږي او امريکا پلوه کسان له واک څخه لرې کړي، چې د مالکي دغه کړنه هيڅ کله هم د امريکايانو لپاره د منلو وړ نه ده.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کله، چې د نوري المالکي له لوري د عراق مرستیال ولسمشر طارق الهاشمي د نیولو حکم صادر شو نو طارق الهاشمي د کردستان خپلواک دولت ته پناه یوړه او له هغه ځایه بیا د کرد چارواکي په مرسته ترکیې ته تللی دی.

ترکیه په دوو برخو کې له عراق سره ستونزې لري. لومړۍ برخه یې د فرات رود اوبو پر سر او دویمه هغه یې د وسله والو کرد کارګرو ګوند یا پي کې کې مسله ده، چې څه موده وړاندې ترکیې د دغې ډلې پر وړاندې حتی د عراق د کردستان په خاوره کې هم عملیات تر سره کړه او اوس مهال عراق د دې توان نه لري، چې د ترکیې پر وړاندې ګامونه پورته کړي. ترکیې ته د طارق الهاشمي تیښته به د دغو ستونزو په ډېرېدو کې مرسته وکړي.

بل لور ته بیا د عراق د لومړي وزیر مرستیال صالح المطلق د دغه هیواد لومړی وزیر نوري المالکي یې تورن کړی، چې د صدام حسین په پرتله زیات دیکتاتور دی او باید استعفا ورکړي.

د امریکا مرستیال ولسمشر جوبایډن له عراقي چارواکو غوښتي، چې د عراق ملي یووالي دې وساتي او روان سیاسي کړکیچ ته دې د پای ټکی کېږدي. د جوبایډن په څرګندولو هم شک شتون لري او هغه دا: که چیرې امریکا غوښتل، چې په عراق کې پیاوړی دولت رامنځ ته شي نو ولې یې بیا په دغه هیواد کې پارلماني نظام رامنځ ته کاوه حال دا هغه هیواد، چې په کورنۍ جګړه اخته وي او حتی نسبي ثبات هم په کې شتون و نه لري د پارلماني نظام رامنځ ته کول یعنې د هغه هیواد تجزیه. کېدای شي د جوبایډن څرګندونې د دې لپاره هم وي، چې امریکا اوس مهاله هم د عراق په فکر کې ده، ځو وکولای شي د نورو هیوادونو له نیوکو څخه ځان خلاص کړي. حال دا، چې ویل کیږي د عراق د ناورین تر شا د امریکا لاس دی؛ ځکه امریکا غوښتل په عراق کې د اوږدې مودې لپاره پاتې شوي، ځو وکولای شي د عراق له نفتي زیرمو څخه په وړیا او یا هم په ډېره ټیټه بیه ګټه پورته کړي او همدا راز په عراق کې پوځي اډې تر لاسه کړي، چې له لارې یې سیمه تر خپل کنټرول لاندې راولي او هر کله، چې وغواړي له دغو اډو څخه د ایران او سوریې پر وړاندې ګټه پورته کړي؛ خو د نوري المالکي حاکم ګوند له لوري په عراق کې د امریکا شتون ته د پای ټکی کیښودل شو.

که چیرې ځیر شو نو د عراق سیاسي کړکیچ تر شا د دوو ډلو لاس دی، چې د دغو دوو ډلو تر شا بیا د سیمې او نړۍ پیاوړي هېوادونه ولاړ دي:

لومړی شیعه ډله، چې تر شا یې ایران او سوریه ولاړ دي او غواړي، چې  د صدام حسین د رژیم پر مهال کومې کړنې، چې له شیعه وو سره شوي دي هماغه کړنې اوس دوی له سني او کردانو سره تر سره کړي او پرې نږدي، چې سني او کردان په واک کې ځای ولري، ځو له دې لارې د یادو شوو هیوادونو ګټې خوندي او د امریکا پر ضد بیا هم د دغو هیوادونو په لمسون او ګټه اقدام وکړي او په عراق کې د امریکا ګټې له خطر سره مخ کړي.

دویم هغه یې سیکولار، سني او کردان دي، چې د نوري المالکي په مشرۍ د حاکم ګوند له لوري د دوی پر وړاندې ګامونه پورته شوي او دویمه ډله بیا په عراق کې دایران او سوریې د ګټو خلاف ده.

همدا راز اوس مهال نوري المالکي امریکا ته شا کړې، چې د مالکي دغه کړنه هیڅ کله هم د امریکا لپاره د زغمولو وړ نه ده.

اوس مهال د یادو شوو ډلو او هېوادونو ترمنځ تقابل رامنځ ته شوی او هر یوه یې هڅه کوي، ځو واک په خپل لاس کې واخلي، چې په پایله کې به یې د عراق ایتلافي دولت له ماتې سره مخ او حتی د عراق د تجزیې امکان هم شته، چې سنیان به یوې لورې، شیعه ګان به بل لوري او همدا راز کردان به بل لوري ته جلا جلا هیوادونه رامنځ ته کړي، چې د دغو کوچنیو هیوادونو رامنځ ته کول بیا د سیمې او نړۍ قدرتونو په ګټه او د عراقیان په زیان به وي.

په افغانستان کې هم شونې ده، چې د عراق په شان ستونزه رامنځ ته شي؛ ځکه بهرنیو هیوادونو اعلان کړی، چې ۲۰۱۴ زېږدي کال څخه وروسته به له افغانستان څخه خپل سرتیري وباسي او د امنیتي چارو مسوولیت به افغان ځواکونو ته وسپارل شي. پداسې حال کې، چې په افغانستان کې پیاوړی دولت شتون نه لري او ډېرې داسې ډلې او ټپلې سته دي، چې د افغانستان ویشلو(تجزیې) ته آماده دي او ډېری وخت په هیواد کې د پارلماني نظام د رامنځ ته کیدو چیغې وهي، چې د تجزیې لپاره لومړنی ګام شمیرل کیږي او همدارنګه ځینې لوېدیځ هیوادونه هم له دوی سره مرستې کوي، ځو خپلو شومو موخو ته ورسیږي.

عراق اوس مهال له ستونزو سره مخ ده او له عراق څخه امریکایي ځواکونه هم وتلی دي. بله ورځ له افغانستان څخه هم بهرني ځواکونه وځي، نو له یوه لوري افغان دولت ته لازمه ده، چې په پاتې دوو کلونو کې دې خپله اداره پیاوړې، اداري فساد او نورې هغه ننګونې، چې پر وړاندې یې پرتې دي له منځه یوسي او له بل لوري نړۍ واله ټولنه دې له افغانستان سره په خپلو کړو ژمنو ژمنه پاتې شي، ځو افغانستان د عراق په سرنوشت راګیر نه شي.

مجیب الرحمن ساپی، کابل

پایان


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ